# د کېري لوګر بِل په حقله

# د عوامي نېشنل پارټۍ موقف

اداره

عوامي نېشنل پارټي همېشه د ازادې خارجه پالیسۍ علمبرداره پاتې شوې ده، مونږ په مستقل مزاجۍ سره د فوځي اتحاد د برخې جوړېدو، د پردو جنګونو کولو او د خپل ملک نه د فرنټ لائن سټېټ جوړولو مخالفت کړے دے، د پاکستان موجوده مشکلات د تېر وخت د ناقصې خارجه پالیسۍ او خصوصاً د پروېز مشرف د دور حکومت د پالیسو د وجې مخې ته راغلي دي کومو چې د ملک نه سیکیورټي سټېټ جوړ کړے دے. د جنرل مشرف دو رنګه پالیسو د ملک استحکام او سالمیت ته لوئے نقصان رسولے دے او ملک ئې د داخلي او خارجي خطرو سره مخامخ کړے دے. او پاکستان ئې د نورو خلقو د بلا جوازه مطالبو، د زیاتېدونکو فاصلو او د اعتماد د بحران ښکار کړے دے.

موجوده جمهوري حکومت د قسما قسم چېلنجونو سره مخ دے چې پکښې د ادارې جوړول، د معاشي حالت او د سیکیورټي صورتحال ښۀ کول، د داخلي او خارجي مشکلاتو نه ملک وېستل او د سیاسي استحکام حاصلول شامل دي.

د کېري لوګر بل باره کښې په موجوده روان بحث کښې ډېرې انتهاپسندانه نظریې مخې ته راغلې چې د هغې مقصد نمبرې جوړول او سیاسي ګټه وچتول دي خو عوامي نېشنل پارټۍ په خپلو کښې د بحث نه پس د دې بل متعلق په دلیلونو اډانه غېر جذباتي تجزیه په لاندې ډول پېش کړې ده.

۱- د اوباما د حکومت د دهشت ګردۍ په حقله پالیسۍ کښې یو لوئے بدلون راغلے دے او هغه په دې خبره پوهه شوے دے چې هغۀ له د پاکستان سره د اوږدې مودې پورې متوازن او همه ګیر تعلقات قائمول ضروري دي چې هغه به صرف د سیکیورټي پورې محدود نۀ وي.

۲- دا چې پاکستان په بدامنۍ او د امن په دواړو حالتونو کښې د امریکې یو اهم اتحادي دے او د دواړو اهداف مشترک دي چې پکښې د دهشت ګردو خلاف جدوجهد، تشدد پسندي ختمول، د جمهوریت خورول او د قانون حکمراني قوي کول شامل دي.

۳- امریکې ته د دې خبرې احساس شوی دی چې د جمهوریت، اقتصادي ترقۍ او یو چاک و چوبند فوځ نه بغیر د دهشت گردو مخه نیول ممکن نۀ دي د دې وجې نه هغوي دا ضرورت محسوس کړې دې چې پاکستان کښې دې د جمهوري ادارو په استحکام، انساني ترقۍ، بنیادي ډانچې، صحت، تعلیم او د توانايۍ په لړ کښې په غیر مشروط ډول سرمایه کاري وکړې شي.

٤- دا بل په خصوصي توګه په فاټا کښې د قانوني انتظامي اصلاحاتو ذکر کوي او په ځیلو شویو علاقو کښې د ابادکارۍ او د ترقیاتي کارونو په اهمیت زور اچوي.

٥- هر څو کۀ په دې بل کښې د فوځي امداد دپاره د رقم تعین نۀ دې شوې خو د عوامي نېشنل پارټۍ په دې خبره تشویش دې چې په دې بل کښې د پاکستان په حکومت او زمونږ په وسله وال فوځ بعضې قدغنونه لګولي شوي دي چې د هغې دپاره به سېکرټري آف سټېټ سرټیفیکټ جاري کوي، دې خبرې د بل غیر فوځي امداد او د بل پالیسي بیان په غیر ضروري طور متنازعه کړې دې او د ملک د اهمو ادارو ترمنځ ئې په یو داسې وخت کښې کشمکش پیدا کړې دې چې په ملک کښې نوې پیدا شوې جمهوریت د ځینې سماجي، معاشي او د سیکیورټي چیلنجونو سره مخ دې. دې خبرو د پاکستاني اولس د امریکې سره د پائیدارې دوستۍ ارادې هم تتې کړې دي.

٦- په دې بل کښې استعمال شوې د خپلې خوښې یو اړخیزه ژبه د قابل اعتراض کېدو سره سره د پاکستان په داخلي مسئلو کښې د مداخلت مترادفه ده او د ملک د اقتدار اعلی د عدم احترام ثرګندونه ترې کېږي خصوصاً اېټمي وسلې د الزام لرونکيو کسانو د رسايۍ د لا محدود اختیار او د فوځ دننه د ترقۍ د طریقۀ کار باره کښې په بل کښې موجود مواد د پاکستان په داخلي معاملو کښې مداخلت دې او دا یو ناخوښه خبره ده.

عوامي نېشنل پارټۍ ته د کېري لوګر بل په وړومبي ټائټل کښې هیڅ د اعتراض خبره په نظر نۀ راځي سېوا د دې نه چې پښتونخوا او فاټا ته ملاوېدونکې امداد نورو علاقو طرف ته اړولې شي بیا هم پارټي د سرټیفیکېټونو په ذریعه پابندۍ نۀ قبلوي او د پاکستان او امریکې دواړو نه مطالبه کوي چې هغوي دې په بل کښې په موجودو شرطونو دوباره داسې مذاکرات وکړي چې د هغې په ذریعه دا مواد د پاکستاني اولس د ارمانونو او د دواړو ملکونو د ازادۍ او د اقتدار اعلی د احترام قابل وګرځي. دې سره پارټي دا مطالبه هم کوي چې د دې مذاکراتو په دوران کښې دې غیر فوځي امداد کښې هیڅ خنډ نۀ راځي.